# ماحولیات، وسله او غربت

## بان کي مون

د اقوام متحده د سېکرټري جنرل بان کي مون دغه مضمون تېره میاشت په "واشنګټن ټائمز" کښې چاپ شو چې وروستو د ټولې دنیا اهمو ورځپاڼو او مجلو په خپلو ژبو کښې چاپ کړو، مونږ ئې د "پښتون" د لوستونکو دپاره وړاندې کوو.

دنیا ته چې دا وخت د ټولو زیاتې کومې لویې مسئلې پېښې دي په هغې کښې غربت، وسله او ماحولیات د ټولو نه اهم دي. هر کال په ستمبر کښې عالمي مشران په اقوام متحده کښې راغونډېږي او د اقوام متحده د منشور په بنیادي نکاتو غور کوي چې پکښې د امن په بنیادي اصولو یقین، انصاف، انساني حقوق او د ټولو خلقو دپاره د روزګار یو شان موقعې شاملې دي. مونږ د دې اصولو په رڼا کښې د دنیا د حالاتو جائزه اخلو او د پېښو مسئلو د هوارولو لارې چارې لټوو خو سږکال حالات مختلف وو نو ځکه د جنرل اسمبلۍ د څلورشپېتم اجلاس په موقعه د خصوصي حالاتو له کبله مونږ د سمدستي کارروايۍ فېصله وکړه.

دې وخت کښې مونږ په ډېرو بحرانونو کښې راګېر یو چې پکښې د خوراک کمے، د توانايۍ په طلب کښې بې شانه اضافه، عالمي کساد بازاري او وبائي مرضونه شامل دي. دا موقعه ده چې د اقوام متحده ټول رکن ملکونه د دې مسئلو د هوارولو دپاره پوره پوره کوشش وکړي. دا هغه موقعه ده چې د ټولې دنیا ملکونه د اتحاد او اتفاق ثرګندونه وکړي او زمونږ دا کوشش دے چې دا سې وشي. انساني ورورولۍ ته د وړپېښو چېلنجونو د مقابلې دپاره پکار ده چې مونږ ټول یو شو.

دنیا ته دا وخت د ټولو نه لویه خطره د موسمونو د بدلون ده ځکه چې لوئے صنعتی ملکونه چې د خپلو پېداواری هلو ځلو په حواله کوم هلاکت خېز ګېسونه په فضا کښې خارجوي د هغې په وجه د قطبېن کنګل سمندرونه په ویلي کېدو شروع شوي دي. د دې په وجه د موسمونو د بدلون د ازلي نظام د ګډوډ کېدو خطره پېدا



شوې ده او د سمندر د سطحې د ډېرې راختو خطره هم ده چې په نتیجه کښې به ئې د ډېرو جزیرو سره سره د دنیا د وچې یوه ډېره لویه برخه په اوبو کښې غرقه شي.

په دې سلسله کښې اوس اوس د دنیا د ۱۶۳ مشرانو یوه اهمه غونډه شوې ده چې پکښې د اقوام متحده د دسمبر د غونډې دپاره د اهم نکاتو مرتب کولو کوشش وشو. د موسمي بدلونونو په حقله به د اقوام متحده غونډه په کوپن هیګن کښې کېږي. په

اوسنۍ غونډه کښې مشران په دې خبره متفق شو چې ټول قومونه دې په يوه لوظنامه لاس ليکونه وکړي چې دنيا د زهرجنو ګېسونو له کبله د راتلونکې تباهۍ نه بچ کړے شي.

د دې مقصد دپاره دا هم ضروري دي چې د ونو په نالولو د يوې مذهبي فريضې په توګه عمل وکړے شي ځکه چې دا شنۀ بوټي او ونې دنيا ته په زيات مقدار کښې اکسيجن ورکوي.

زما يو نيم کال وشو چې د اقوام متحده جنرل سېکرټري شوے يم او په دې وخت کښې زما خصوصي توجه د موسمونو په بدلون ده او مونږ دا مسئله په عالمي ايجنډه کښې په اول نمبر د کېښودو کوشش کړے دے.



د مشرانو په اوسنۍ غونډه کښې دا مسئله په ډېر تفصيل او وضاحت سره وړاندې کړې شوه او د ټولې دنيا د ملکونو په دارالحکومتونو کښې دې مسئلې ته د اولنې حېثيت ورکولو فېصله وشوه. دا خبره صحيح ده چې دا مسئله ډېره پېچيده ده او په خاص توګه په غريبو ملکونو کښې په دې حقله ډېرې بې قاعدګۍ هم کېږي، د دې د مخنيوي دپاره د دغه ملکونو سره د مناسب انفراسټرکچر هم کمے دے او هلته د ماحول مخالف هلو ځلو کښې هم د صنعتي ملکونو لاس وي هم دا وجه وه چې په نيويارک کښې راغونډو شوو مشرانو دا فېصله وکړه چې په کوپن هيګن کښې کېدونکې غونډه کښې به د دې مسئلې د هوارولو دپاره کوټلي قدمونه پورته کولے شي.

د نيويارک د غونډې د ختمېدو نه وړاندې جاپان په خاص توګه دا لوظ وکړو چې هغه به ۲۰۲۰ پورې د زهرجنو ګېسونو په خارجولو کښې کم نه کم ۲۵ فيصده کمے وکړي. خو نورو صنعتي ملکونو ته به هم زمونږ په لاره تلل پکار وي. د چين صدر هوجنتاؤ اعلان وکړو چې چين د وړاندې نه په دې حقله ضروري ګامونه پورته کړي دي او په زهرجنو ګېسونو کښې کمي او ونو بوټو نالولو کښې اضافه کولے شي خو کۀ په دې حواله کومه عالمي لوظنامه کېږي نو چين نور اقداماتو ته هم تيار دے چې صدر اوبامه ئې ذکر وکړو. هغۀ دا هم ووې چې په دې حواله دباؤ جاري ساتل پکار دي ځکه چې دا دومره اهمه مسئله ده چې کۀ لږه غوندې کوتاهي پکښې وشوه نو ډېره لويه تباهي به وشي.

د چين د صدر دا خيالات د داد وړ دي او دلته زۀ دا هم وئيل غواړم چې په دې مسئله په بنکاک کښې هم د اقوام متحده يوه مذاکراتي غونډه کېدونکې ده او په نومبر کښې مونږ د لويو صنعتي ملکونو يوه بله غونډه هم راغواړو. مونږ غواړو چې په دې کال کښې دننه دننه په دې حقله څۀ اخري فېصله وکړې شي چې په راروان کال کښې په دې باقاعده عمل درامد شروع کړے شي.

د دې نه علاوه چې بله کومه لويه او سنګينه مسئله ده هغه په اټمي وسله کښې تخفيف کول دي. په لويه پېمانه تباهي راوستونکې د دې وسلې په حقله چې کوم دليل ورکړے کېږي چې د امن د قيام دپاره د دې وسلې ضرورت دے، هغه دليل اوس غلط ثابتېږي. په دې حقله هم د اقوام متحده يوه اهمه غونډه شوې وه چې پکښې د اټمي وسلې د نۀ خورولو په سوال په سنجيدګۍ سره غور شوے ؤ او په اټمي وسلو د مکمل بندېز لګولو په طريقۀ کار غور وکړے شو. په دې غونډه کښې په داسې قانون سازۍ هم غور وکړے شو چې د کومې په ذريعه به د هغه ملکونو خلاف هم کارروايي کولې شي چې د اټمي توانايۍ د پُرامن استعمال نه انحراف کوي او دا د جنګي مقاصدو دپاره پکاروي. په دې معامله په اقوام متحده کښې يوه اتفاق رائې وه.



ځنګه چې مونږ په وړومبي سر کښې ووې چې د اقوام متحده په وړاندې يوه اهمه مسئله د غربت هم ده، په دنيا کښې د غريبانو په شمېر کښې مسلسل اضافه کېږي او دا ويره ده چې د دې کال په اخر کښې به د غربت د اخري حد نه د لاندې خلقو په شمېر کښې د نورو لسو کروړو خلقو اضافه وشي. هم دا وجه ده چې د دې کال په وړومبي سر کښې اقوام متحده د روزګار په حواله د يوې عالمي لوظنامې تجويز وړاندې کړے ؤ چې پکښې فېصله شوې وه چې د دنيا په ټولو ملکونو کښې به د روزګار د امکاناتو جائزه اخستې شي. حقيقي اعدادوشمار به راغونډولے شي او د روزګار په مواقعو کښې به د زياتوالي راوستو پوره پوره کوشش کولے شي.

مونږ ته د دې خبرې د جائزې اخستو هم ضرورت دے چې د معاشي بحران د ټولو نه زيات اثر په کومو طبقو شوے دے چې د هغې د ازالې کولو کوششونه وکړے شي. هم دا وجه ده چې مونږ را روان کال کښې د مشرانو د يوې خصوصي غونډې رابللو فېصله کړې ده چې پکښې به د "ملينيم ډويلپمنټ ګولز" تعين کولے شي او په اولنو پنځو کلونو کښې به د صحت، تعليم او انساني سېکيورټۍ د مسئلو هوارولو کوشش کولے شي. تېر کال د دنيا د شلو ترقي يافته ملکونو يو شمېر کانفرنسونه راجوړ کړے شول او په دوي زور ورکړے شو چې کوم ملکونه د اقتصادي بحران ښکار شوي دي، دوی د دغه بحران نه د راوبستلو دپاره د دوي سره پوره پوره مرسته وشي.

د اقوام متحده په جنرل اسمبلۍ کښې تقريرونه خو ډېر کېږي خو په وړاندې کړے شوو، تجاويزو عمل درآمد ډېر کم کولے شي خو مونږ هيله لرو چې عالمي مشران به په جنرل اسمبلۍ کښې د خپلو وعدو پوره کولو دپاره د زړۀ د اخلاصه عمل کوي. (د امجد شهزاد ترجمه)